# د بِسْمِ اللّٰه شریف

# برکتونه

**08-September-2022**



هفته وراه د سُنّتو ډکه اِجتِماع کښې کېدونکے
د سُنّتو ډک بیان

(For Islamic Brothers)

8 ستمبر 2022ء د پاکستان په هفته وار اجتماع کښې کيدونکے بيان

# د بسم الله شريف برکتونه

په دې بيان کښې به تاسو اوپيژنئ......

۞... بِسْمِ الله شريف د قرآنِ کريم د يو آيت حصه ده

۞... د بِسْمِ الله شريف د 19 حرفونو حکمتونه

۞... د بِسْمِ الله شريف د لوستلو ثواب

۞... د بِسْمِ الله شريف لوستونکے اوبخښلے شو

۞... د بِسْمِ الله شريف 14 برکتونه

پيشکش

اَلْمَدِيْنَةُ الْعِلْمِيَة (اسلامِک ريسرچ سنٹر)

(شعبه بياناتِ دعوتِ اسلامي)

۞۞۞۞۞

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الْمُرْسَلِيْنَ
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ ط بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ط

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا رَسُوْلَ الله وَعَلٰى اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ يَا حَبِيْبَ الله
اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا نَبِيَّ الله وَعَلٰى اٰلِكَ وَ اَصْحٰبِكَ يَا نُوْرَ الله

نَوَيْتُ سُنَّتَ الْاِعْتِكَاف (**ترجمه**: ما د سُنَّتِ اعتكاف نِيَّت اوكړو)

## د دُرُودِ پاك فضيلت

حضرت سِّدُنا حفص رُومي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ډير لوئے سردار وو، د هغوئي د وفات نه پس چا هغوئي په خوب كښې اوليدلو او پوښتنه ئې ترې اوكړه: مَا فَعَلَ اللهُ بِکَ يعني الله پاک ستاسو سره څه مُعامَله اوفرمائيله؟ هغوئي جواب وركړو: الله پاک په ما باندې رحم اوكړو، زه ئې اوبخښلم او زه ئې جنَّت ته داخل كړم. اوپوښتلے شو: د كوم عمل په وجه؟ جواب ئې وركړو: كله چې زه د الله پاک په دربار كښې حاضر شوم نو الله پاک فرښتو ته زما د ګناهونو او زما د لوستلي دُرُود شريف د حساب كولو حكم اوكړو، چې كله حساب اوكړے شو نو زما دُرُود شريف زما د ګناهونو نه زيات شو نو الله پاک ارشاد اوفرمائيل: اے زما فرښتو! د ده قدر او عزّت په تاسو واضِحه شوے دے، ځكه د ده سره نور حساب مه كوئ او دا جنّت ته بوځئ.[1]



1...اَلْقَوْلُ الْبَدِيْع، صفحه:124.

www.dawateislami.net

دُرود اُن پہ بھیجو سلام اُن پہ بھیجو
اگر کوئی اپنا بھلا چاہتا ہے

یہی مؤمنوں سے خدا چاہتا ہے
اُسے چاہے جس کو خدا چاہتا ہے

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د بیان اوریدلو نِیَّتونه

په حدیث شریف کښې دي: اَلنِّيَّةُ الْحَسَنَةُ تُدْخِلُ صَاحِبَهَا الْجَنّةَ ښه نِیَّت بنده جنت ته داخلوي.[1]

اے عاشقانِ رَسُول! د ښه ښه نِیَّتونو سره د عمل ثواب زیاتیږي. راځئ! د بیان اوریدلو نه مخکښې ښه ښه نِیَّتونه اوکړئ: مَثَلاً نِیَّت اوکړئ چې ❀ د الله پاک د رضا د پاره به پوره بیان اورم. ❀ د عِلمِ دِین د تعظیم [یعني ادب] په نِیَّت به باأدبه کښینم ❀ ښه په تَوَجُّه سره به بیان اورم ❀ څه چې واورم هغه به یاد ساتم، پخپله به پرې عمل کووم او نورو ته به ئې د رَسَولو کوشش کووم.

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د یهودي او یهودنړې خوندور حکایت

یو یهودي په یوه یهودنړه باندې عاشق شو، په هغه باندې مجازي عشق داسې غالب شو چې د لیونو په شان شو، تر دې پورې چې هغه ته د خوراک څښاک هوش هم نه وو، د خپلې دې پریشانئ د حل کولو د پاره دا



1…مسند فِرْدَوس، جلد:4، صفحه:305، حدیث:6895.

www.dawateislami.net

د هغه وخت ولِيُّ الله حضرت عطاء رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په خدمت کښې حاضر شو او خپل حال ئې ورته بیان کړو. حضرت عطاء رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه هغه ته په یو کاغذ باندې بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡم اولیکله اوئې فرمائیل: دا اوخوره! چې کله هغه یهودي د بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡم لیکلے شوے کاغذ تیر کړو، (بس د تیرولو سره د هغه په زړه کښې انقلاب راغلے، هغه) عرض اوکړو: اے عطاء رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ! ما د ایمان د خوږ والي خوند اومونډلو او زما په زړه کښې نُور ظاهر شو، ما د هغې (زنانه) عشق هیر کړو، ما ته د اسلام په باره کښې اووائې. حضرت عطاء رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه چې هغه ته د اسلام په باره کښې اووئیل نو هغه یهودي د بِسۡمِ الله شریف په برکت سره مسلمان شو.

هلته چې هغې یهودنړې واوریدل چې د هغې عاشق اسلام قبول کړو نو هغه هم د حضرت عطاء رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په دربار کښې حاضره شوه او عرض ئې اوکړو: اے امامُ المُسلمین! زه هغه زنانه یم د چا په عشق کښې چې هغه اسلام قبلولو والا ځوانے یهودي اخته وو، ما خوب اولیدلو، یو وئیونکي ما ته وئیل: که چرې ته په جنَّت کښې خپل ځائے لیدل غواړې نو د حضرت عطاء رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په خدمت کښې حاضره شه، هغه به تا ته ستا ځائے اوښائي. زه حاضره یم، اووائې! جنَّت چرته دے؟ حضرت عطاء رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه اوفرمائیل: که چرې ته د جنَّت اِرداه لرې نو تا ته به اوّل د هغې دروازه بیرته کول وي، د هغې نه پس ته جنَّت طرف ته تلے شې. یهودنړې

اووئیل: زه د جنَّت دروازه څنګه بیرته کړم؟ اوئې فرمائیل: بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡم اووایه! هغې بِسۡمِ الله شریف اولوستله، (بس د لوستلو سره سم د هغې په زړه کښې انقلاب راغے) اوئې وئیل: اے عطاء (رَحۡمَةُ اللهِ عَلَیۡه)! ما په خپل زړه کښې نُور اوموندلو، ما ته د اِسلام په باره کښې اووائې. هغوئي رَحۡمَةُ اللهِ عَلَیۡه هغې ته د اِسلام په باره کښې اووئیل نو د بِسۡمِ الله شریف په برکت سره هغه هم مسلمانه شوله.

په هغه شپه چې کله هغه نوې مسلمانه شوې زنانه اوده شوله نو په خوب کښې جنَّت ته داخله شوه، هلته ئې یو ښکلے محل او ګنبد اولیدلو، په یو ګنبد باندې لیکلے شوي وو:

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡم لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ مُحَمَّدٌ رَّسُوۡلُ اللّٰه

زنانه چې دا الفاظ اووئیل نو چا هغې ته اووئیل: اے لوستونکې! الله پاک دا هر څه تا ته عطا کړي دي.[1]

بسم اللّٰہ کی بَرَکت ہے
ہم نے پائی جنّت ہے
کتنی اچّھی قسمت ہے
یہ سب ربّ کی رَحمت ہے

## بِسمِ الله شریف د قرآنِ پاک د یو آیت حصه ده

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡم د قرآنِ کریم یو پوره آیت شریف دے کوم چې د دوو سورتونو ترمینځه د فاصِلے د پاره



1…کتاب القلیوبی، حکایت:26، صفحه:22، 23.

نازل کړے شوے دے او دا د نُولَسمې سيپارې د سُوْرَةُ النَّمْل د يو آيت حِصّه هم ده[1] ارشاد دے: بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡم (پارہ:19، سورۂ نمل:30)

[مفهوم]ترجمهٔ کَنزُالايمان: د الله په نوم سره کوم چې ډير مهربان رحم والا دے.

## شور جوړ شو

صحابئ رسول حضرت جابِر بن عبد الله رَضِیَ اللهُ عَنۡهُ فرمائي: کله چې بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡم نازله شوه نو وريځو مشرق طرف ته منډې کړې هواګانې اودريدلې، سمندر په جوش کښې راغے، ځناورو په غور سره د اوريدو د پاره خپل غوږونه کيښودل او شيطانان د آسمانونو نه په کاڼړو ويشتلے شول او الله پاک اوفرمائيل: زما دې زما په عزَّت او جلال باندې قسم وي! په کوم څيز باندې چې بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡم لوستلے شوې وي زه به په هغې کښې برکت اچووم.[2]

## د بِسمِ الله شريف جامعيت

الله پاک په بعضې انبيائے کرامو عَلَيۡهِ السَّلَام باندې صحيفې او کتابونه نازل کړل د کومو شمير چې 104 دے. په دې کښې 60 صحيفې په حضرت شُعيب عَلَيۡهِ السَّلَام باندې، 30 صحيفې په حضرت ابراهيم عَلَيۡهِ السَّلَام باندې، 10 صحيفې په حضرت موسٰی عَلَيۡهِ السَّلَام باندې د تورات شريف نه



1…حلبی الکبير، صفحه: 307 ملتقطاً.

2…تفسير در منثور، پاره:1، سورۂ فاتحه، جلد:1، صفحه:26.

www.dawateislami.net

مخکښې نازلې شوې وې. دغه شان 4 غټ کتابونه نازل شول: **(1)**: تورات شريف په حضرت موسٰی کليم الله عَلَيۡهِ السَّلَام باندې **(2)**: زَبور شريف په حضرت داؤد عَلَيۡهِ السَّلَام باندې **(3)**: انجيلِ مُقدَّس په حضرت عيسٰی روحُ الله عَلَيۡهِ السَّلَام باندې او **(4)**: قرآنِ کريم زمونږ په خوږ آقا مکي مدني مصطفٰـی صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم باندې نازل شو. د دې ټولو کتابونو او ټولو صحيفو مضمونونه په قرآنِ کريم کښې او د ټول قرآنِ کريم مضمون په سورهٔ فاتِحه کښې او د سورهٔ فاتِحه ټول مضمون په بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡم کښې او د بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡم ټول مضمون د دې په حَرف **ب** کښې موجود دے او د دې معنٰی دا ده چې: بِیۡ کَانَ مَاکَانَ وَبِیۡ یَکُوۡنُ مَایَکُوۡنُ. (يعني چې څه هم دي زما (يعني د الله پاک) نه دي او څه چې هم کيږي زما (يعني د الله پاک) نه به کيږي.)[1]

## هر جائز کار د بِسمِ الله نه شروع کوئ!

اے عاشقانِ رَسُول! د الله پاک پاک کلام، قرآنِ کريم د بِسۡمِ الله نه شروع کيږي، په دې کښې زمونږ د پاره دا درس دے چې مونږه هم خپل کار د بِسۡمِ الله نه شروع کړو. حضرت علّامه احمد صَاوي رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه فرمائي: د قرآنِ کريم شروع د بِسۡمِ الله نه ځکه اوکړے شوه چې دغه شان د الله پاک بندګان د دې پيروي اوکړي (يعني په دې لار روان شي) او هر ښه کار د بِسۡمِ



1…اَلۡمَجَالِسُ السَّنِيَّة، صفحه:3.

www.dawateislami.net

الله نه شروع کړي.[1] په حديثِ پاک کښې هم (ښه او) اهم کار د بِسۡمِ الله نه د شروع کولو ترغيب ورکړے شوے دے.[2]

مشهور مفسّرِ قرآن، حکيمُ الاُمّت، حضرت مفتي احمد يار خان نعيمي رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه د بِسۡمِ الله شريف تفسير کولو سره ليکي: د عربو کافِرانو به خپل هر کار د خپلو دروغژنو خدايانو د نومونو نه شروع کولو، ځکه ضروري شوه چې مسلمان خپل هر [جائز] کار د الله پاک د نوم نه شروع کړي، چې د کافِرانو مخالفَت ظاهر شي، د دې نه دا هم معلومه شوه چې د مسلمان هر کار د غير مسلمو خلاف پکار دے د هغوئي سره محبت او مشابَهَت ډير بد څيز دے.[3]

چھوڑ دے سارے غَلَط رَسم ورَواج | سنتوں پر چلنے کا کر عہد آج
خوب کر ذکرِ خدا و مصطفٰے | دل مدینہ یاد سے ان کی بنا

## د بِسمِ اللهِ شريف د 19 حروفو حکمتونه

امام فخر الدين رازي رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه ليکي: د بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡم 19 حروف دي او په دوزخ کښې عذاب ورکوونکې فرښتې هم 19 دي بس اُمِّيد دے چې د دې د يو يو حرف په برکت به د يوې يوې فرښتې عذاب لرې شي.

نور فرمائي: په شپه ورځ کښې 24 گهنټې دي په کومو کښې چې 5



1…حاشيه صاوى على تفسير الجلالين، پاره:1،سورهٔ فاتحه، جلد:1،صفحه:35 خلاصةً.

2…جامع لاخلاق الراوى،32 باب اتخاذ المستملى،صفحه:322،حديث:1198 ماخوذاً.

3…تفسيرِ نعيمى،پاره:1،سورهٔ فاتحه،جلد:1،صفحه:47 ملتقطاً و بتغير قليل.

ګهنټې لمونځونو ګيرې کړې دي او د 19 ګهنټو د پاره د بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ 19 حروف عطا کړے شول. بس کوم نيک بخته چې د بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ وِرد کوي، اِنۡ شَآءَ اللّٰہُ الۡکَرِیۡم! د هغه هره ګهنټه به په عبادت کښې شميرلے شي او د هرې ګهنټې ګناهونه به ئې معاف شي.[1]

خوږو او محترمو اسلامي وروڼو! د غيبتونو او ګناهونو ډکو خبرو نه ځان بچ کړئ! او د الله پاک يادولو، د خوږ آقا مدنی مصطفٰی صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د نعتونو سره خپل تَعَلُّق جوړ کړئ! د زيات دُرُود و سلام د پاره ژبه استعمال کړئ او د قرآنِ پاک ډير ډير تلاوت اوکړئ او ډير ډير ثوابونه اوګټئ.

رِہائی مجھ کو ملے کاش! نفس و شیطاں سے | ترے حبیب کا دیتا ہوں واسِطہ یا ربّ!
گناہ بے عدد اور جرم بھی ہیں لاتعداد | کر عَفو سہ نہ سکوں گا کوئی سزای اربّ!

## کارونه نيمګړي پاتې کيږي

د الله پاک خوږ او آخري نبي، رسولِ هاشمي، مُحَمَّدِ عربي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائي: کُلُّ اَمۡرٍ ذِیۡ بَالٍ لَا یُبۡدَءُ فِیۡہِ بِبِسۡمِ اللّٰہِ فَھُوَ اَقۡطَع يعني کوم اهم کار چې د بِسۡمِ اللّٰهِ نه شروع نه کړے شي، هغه نيمګړے پاتې کيږي.[2]

خوږو او محترمو اسلامي وروڼو! غور اوکړئ! څنګه محرومه کيدل دي که چرې د ښه او اهمو کارونو نه مخکښې بِسۡمِ الله شريف اُونه لوستے شي نو کارونه نيمګړي پاتې کيږي، په هغې کښې برکت نه وي. کيدے شي



1…تفسير کبير، پاره:1،سورۀ فاتحه،جلد:1،صفحه:156.

2…جامع صغير، صفحه:391، حديث:6284.

www.dawateislami.net

چې په ذِهن کښې خيال راشي **چې زه خو** بِسۡمِ الله **نه وايم، نو بيا هم زما کارونه پوره کيږي.**

په جواب کښې عرض دے چې د کار په ظاهري طور پوره کيدل بيله خبره ده او په هغې کښې برکت نه راتلل بيله خبره ده، د مثال طور چا بغير د بِسۡمِ الله وئيلو نه ډوډۍ اوخوړله، په ظاهره خو به خوراک د حلق نه تير شي خو که چرې په دې کښې برکت رانغلو او خوراک پوره طور هضم نه شو او د بدن حِصّه جوړ نه شو نو بيا...؟ نن صبا دا مسئلے زياتې دي، کار ډير کيږي، آمدن ښه ډير وي، **خو بيا هم نه پوره کيږي،** خوراک کوو خو په بدن هډو لګي نه، ډير خلق ګيلے کوي چې **ورځې مې خرابې رواني دي، چې سرو زرو له لاس وروړم نو خاورې شي،**طالب علمان شکايت کوي چې محنت ډير کوو خو سبق نه ياديږي وغيره. د دې ټولو مسئلو نورې هم وجهې دي، يوه وجه د بِسۡمِ الله شريف نه کار نه شروع کول هم کيدے شي.

## د بدفالۍ نه ځان ساتۍ!

دلته دا مرض هم عام دے چې خلق خپله غلطي نه مني، نور خلق قصور واره ګرځوي. اوس چې لکه څنګه د صَفَرُ المُظفَّر مبارکه مياشت ده ❀ په دې مياشت کښې چې چا واده اوکړو، ډير ډولونه او ګډاګانې پکښې اوشوې، ټوله شپه سندرې اوغږيدلې، د ګډاګانو محفلونه جوړ شول، شيطان ډير خوشحاله کړے شو، الله دې نکړي که چرې داسې واده د کور ودانولو

په ځائے د کور ورانولو شکل اختيار کړو نو وائي به: اومو کتل...!! په صَفَره کښې مو واده کړے وو، صَفَره خو سپيره مياشت ده ❀ د سحر لمَانځه وخت تيريدو نه پس بنه په مزه راپاځيدو، زر زر ئې تياري اوکړه، دکان يا دفتر ته اُورسيدلو، څه مسئله اوشوه، آمدن کم شو يا مالک ورته ردې بدې اووئيلې نو قصور د چا؟ سحر چې پاڅيدو او د چا مخ ئې ليدلے وو د هغه، يا د تورې پيشو چې په مخه ئې تيره شوې وه. اَلْاَمَانْ وَالْحَفِيْظ!

اے عاشقانِ رَسُول! قصور نه د صَفَرې د مياشت دے، نه د پيشو دے، قصور خپل دے، که چرې بنه کار د الله پاک د مبارک نوم نه شروع کړے شوے وے، که ربِّ کريم په بارګاه کښې د شکر سجده شوې وے نو برکت به وو، کله چې د شيطان د خوشحالوونکو کارونو نه شروع اوکړے شوه، د الله پاک نوم وانخستے شو نو برکت به د چرته نه راشي؟

داسې نورې هم بدفالئ کيږي، د ورځو نه بدفالي اخلي، د ځناورو نه بدفالي اخلي، تر دې پورې چې د شمير د نمبرو مثلاً د 13 نمبر نه هم بدفالي اخلي. الله پاک دې زمونږه حفاظت اوکړي! چې په داسې بدفالئ او وَهم پرستئ کښې اخته نه شو او په خپلو عادتونو او معمولاتو غور اوکړو، د ناکامئ چې کومه اصل وجه ده، د هغې د لتولو کوشش اوکړو نو اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْکَرِیْم! فائده به وي. الله پاک دې مونږ ټولو له عقلِ سليم راکړي.

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

## د بِسمِ اللّٰہ شریف عاشقه

د شیخِ طریقت، امیرِ اهلِسُنَّت حضرت علّامه مولانا ابو بلال محمد الیاس عطّار قادري رضوي دَامَتْ بَرَکَاتُہُمُ الْعَالِیَہ په کتاب **فیضانِ سُنّت** کښې دي: یو مبلغ په یوه اجتماع کښې د **بِسْمِ اللّٰہ** شریف فضائل بیانول. یوې یهودنړې جینۍ د **بِسْمِ اللّٰہ** شریف فضیلتونه واوریده نو ډیره زیاته مُتَاَثِّره شوه او هغې ایمان راوړو. د هغې په خُله باندې د **بِسْمِ اللّٰہِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْم** وِرد جاري شو. هر وخت په ناسته، ملاسته، اودریدلو، کښیناستلو، ګرځیدلو کښې به ئې **بِسْمِ اللّٰہ** وئیله. د جینۍ کافران مور و پلار به د هغې نه سخت خفه وو، هغې ته به ئې قِسما قِسم تکلیفونه ورکول، تر دې پورې چې د اسلام د دُښمنۍ په سبب په دې کوشش کښې وو چې په خپله لور باندې څه اِلزام اولګوي او مَعاذ اللّٰہ! هغه مړه کړي.

د جینۍ پلار د وخت د بادشاه وزیر وو، یوه ورځ هغه شاهي مُهر والا ګوتۍ [یعني ګوتمه] لور ته د ایښودلو د پاره ورکړه، جینۍ د **بِسْمِ اللّٰہِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْم** وئیلو سره ګوتۍ واخسته او د **بِسْمِ اللّٰہِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْم** وئیلو سره ئې په جیب کښې کیښوده. د شپې چې کله هغه اوده شوه نو د هغې پلار د هغې د جیب نه ګوتۍ راویستله او دریاب ته ئې غوزار کړه. یو مهي (کب) هغه ګوتۍ تیره کړه. سحر چې یو ښکاري جال ورغوزار کړو نو اتفاقًا هغه

مهے په جال کښې اونښتو، هغه راوړو او وزير له ئې د ډالئ په طور ورکړو، وزير د ښخولو د پاره جينئ ته ورکړو. جينئ د بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡم وئيلو سره مهے واخستلو، بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡم لوستلو سره ئې د هغه مهي خيټه سِرې کړه نو په هغې کښې ګوتئ را اوختله. هغې د بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡم لوستلو سره ګوتئ په جيب کښې کيښوده او مهے ئې پوخ کړو او د پلار مخې ته ئې کيښودو. د ډوډئ خوړلو نه پس چې کله د دربار وخت شو، پلار د جينئ نه ګوتئ اوغوښتله، هغې نوې مسلمانې شوې جينئ د بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡم وئيلو سره ګوتئ د جيب نه راواخستله او خپل پلار له ئې ورکړه. پلار ئې چې دا اوليدله نو ډير حيرانه شو، داسې الله پاک د بِسۡمِ الله عاشقه د وژلو نه محفوظه کړه.[1]

سُبۡحٰنَ اللّٰه! تاسو اوليدل! توره پيشو يا بل يو وهم څه رکاوَټ جوړ شو، د جينئ د پلار پوره کوشش هم هيڅ اونکړه او د بِسۡمِ الله په برکت جينئ په خپل کار (يعني د ګوتئ په حفاظت) کښې هم کاميابه شوه او د وژلو نه هم بچ شوه. د الله پاک په نوم کښې هم واقعي برکت دے، مونږ له پکار دي چې مونږه هم بدفالي پريږدو، د بِسۡمِ الله وئيلو عادت جوړ کړو، که چرې يقين پوخ وي نو اِنۡ شَآءَ اللّٰهُ الۡكَرِيۡم! برکتونه به هم نصيب شي.



1⋯ فيضان سُنت، صفحه:8685.

www.dawateislami.net

## د طعام خوړلو نه مخکښې بِسمِ الله لولئ!

د خوراک څښاک نه مخکښې بِسمِ الله وئيل سُنَّت دي. د حضرت حُذيفه رَضِیَ اللہُ عَنْہُ نه روايت دے چې خوږ آقا مکي مدني مصطفٰے صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: په کوم خوراک چې بِسمِ الله اونه وئيلے شي هغه خوراک د شيطان د پاره حلال شي. (يعني د بِسمِ الله نه وئيلو په صورت کښې شيطان په هغه خوراك کښې شريک کيږي)[1]

د طعام خوړلو نه مخکښې د بِسمِ الله نه وئيلو سره په خوراک کښې برکت نه وي. حضرت اَبو ايُّوب اَنصاري رَضِیَ اللہُ عَنْہُ فرمائي چې مونږه د خوږ آقا صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په خدمت کښې حاضر وو. خوراک راوړے شو، په شروع کښې مونږه دومره برکت په يو خوراک کښې هم نه وو ليدلے خو په آخره کښې مو پکښې بےبرکتي اوليدله. مونږه عرض اوکړو: يَا رسولَ الله صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم! داسې ولې اوشول؟ خوږ آقا صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: مونږه ټولو د طعام خوړلو نه مخکښې بِسمِ الله وئيلي وه. بيا يو کَس د بِسمِ الله وئيلو نه بغير طعام خوړلو ته کښيناستلو، د هغه سره شيطان ډوډئ اوخوړله.[2]

اُمُّ المُؤمِنِين حضرت عائشه صِدّيقه رَضِیَ اللہُ عَنْہَا فرمائي چې نبي کريم صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: کله چې څوک ډوډئ خوري نو د الله پاک



1…مسلم، کتاب الاشربة، باب آداب الطعام و الشراب و احكامهما، صفحه:802، حديث:2017.

2…شرح السنه، کتاب الاطعمه، جلد:6، صفحه: 480، حديث:2824.

www.dawateislami.net

نوم دې اخلي (يعني بِسۡمِ الله دې لولي) او که چرې په شروع کښې بِسۡمِ الله وئيل هير شي نو داسې دې اووائي: بِسۡمِ اللّٰهِ اَوَّلَهٗ وَاٰخِرَهٗ.[1]

خوږو او محترمو اسلامي وروڼړو! کله چې هم طعام خورئ نو په ياد سره بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡم لولئ. څوک چې د طعام خوړلو نه مخکښې بِسۡمِ اللّٰهِ شريف نه لولي د هغه په خوراک کښې قَرِين نومې شيطان هم شريك کيږي.

## زهرو پرې اثر اونکړو...!!

يو ځل صحابئ رسول حضرت خالِد بن وليد رَضِيَ اللهُ عَنۡهُ ته يو څو مجوسيانو عرض اوکړو: تاسو مونږ ته څه داسې نښه اوښائې چې د هغې په وجه په مونږه باندې د اسلام حق کيدل واضحه شي. حضرت خالِد بن وليد رَضِيَ اللهُ عَنۡهُ تيز زهر را اوغوښتل او د بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡم وئيلو سره ئې اوڅښل. د بِسۡمِ الله په برکت سره هغه تيزو زهرو په هغوئې رَضِيَ اللهُ عَنۡهُ باندې هيڅ اثر اونکړو. دې نظارې ليدلو سره مَجوسيانو (يعني د اور عبادت کوونکو) بےساخته اووئيل: دينِ اِسلام حق دے.[2]

خوږو او محترمو اسلامي وروڼړو! معلومه شوه چې د خوراک څښاک نه مخکښې د بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡم وئيلو سره چرته د آخِرت عظيم ثواب دے هم هلته په دُنيا کښې هم د دې فائده دا ده چې که چرې د خوراک څښاک په څيزونو کښې څه ضرر رسوونکے څيز شامل هم وي نو هغه به



1…ابوداؤد، کتاب الاطعمه، باب التسمية على الطعام، صفحه:596، حديث:3767.

2…تفسيرِ کبير، پاره:1، سورۀ فاتحه، جلد:1، صفحه:155.

www.dawateislami.net

اِنْ شَآءَاللّٰهُ الْكَرِيم! نقصان نه رَسَوي. ياد ساتئ! حضرت خالِد بن وليد رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ د اوچتے مرتبے صحابي او ولئ کامِل دے، په هغوئي زهرو اثر اونکړو، دا د هغوئي کرامت او د اعلٰی درجے تَوَکُّل دے، زمونږ د پاره داسې کوشش کول يعني قصداً عمداً ضرر رسوونکے خوراک خښناک جائز نه دے.

## د اوداسه نه مخکښې بِسمِ اللّٰه لولئ!

د حضرت ابُوهُريره رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ نه روايت دے چې سرکارِ مدينه صَلَّی اللّٰه عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: اے ابُو هريره! کله چې ته اودس کوې نو بِسْمِ اللّٰهِ وَالْحَمْدُ لِلّٰه لوله تر څو پورې چې ته په اودس کښې ئې تر هغې پورې به فرښتې (يعني كِراماً کاتِبين) ستا د پاره نيکئ ليکي.[1]

## په هر يو قدم باندې يوه نيکي

په تفسيرِ نعيمي کښې دي: کوم کَس چې په يو څناور د سورلي کولو د پاره د سوريدلو په وخت بِسْمِ اللّٰهِ او اَلْحَمْدُ لِلّٰه اولولي نو د هغه څناور په هر قدم باندې به د هغه سورلي کوونکي په حق کښې يوه نيکي اوليکلے شي.

دغه شان چې کوم کَس کشتئ ته د ختلو په وخت بِسْمِ اللّٰهِ او اَلْحَمْدُ لِلّٰه اولولي، تر څو پورې چې هغه په هغه کشتئ کښې وي د هغه د پاره به نيکئ ليکلے کيږي.[2]



1…معجم صغير للطبرانى، صفحه:168، حديث:196.

2…تفسيرِ نعيمى، پاره:1، سورهٔ فاتحه، جلد:1، صفحه:55 .

www.dawateislami.net

## په رِزق کښې د برکت بهترينه نُسخه

حضرت مفتي احمد يار خان نعيمي رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه فرمائي: کور ته د داخليدو په وخت د بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡم وئيلو سره ښئ ښپه دروازه کښې اينښودل پکار ده او بيا کور والؤ ته سلام اوکړئ او کور ته ننوځئ. که په کور کښې هيڅ څوک نه وي نو اَلسَّلامُ عَلَيۡکَ اَيُّهاَ النَّبِيُّ وَ رَحۡمَةُ اللّٰهِ وَ بَرَکاتُه اووائې. بعضې بزرګان په دې ليدلے شوي دي چې د ورځې په شروع کښې کور ته د ننوتو په وخت بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡم او سورۀ اخلاص (يعني قُلۡ هُوَ اللّٰهُ احد) لولي، د دې سره په کور کښې اِتّفاق هم وي (يعني جنګ جګړې نه وي) او په رِزق کښې برکت هم وي.[1]

## په ماشومانو کښې هم د بِسمِ الله لوستلو عادت جوړ کړئ!

حضرت عيسٰی عَلَيۡهِ السَّلَام د يو قبر په خوا تيريدلو نو په هغه قبر والا باندې عذاب وو. څه موده پس چې بيا [د هغه قبر په خوا] تيريدلو نو په هغه قبر کښې هر خوا نُور وو او هلته د الله پاک رحمت راوريدلو. هغوئي عَلَيۡهِ السَّلَام ډير حيرانه شو او د الله پاک په دربار کښې ئې عرض اوکړو: ما ته د دې راز اوښائې؟ ارشاد اوشو: اے عيسٰی (عَلَيۡهِ السَّلَام)! دا ګس ډير سخت ګنهګار وو او په عذاب کښې نښتے وو، خو د وفات کيدو په وخت د ده ښځه په اُمّيد سره



1…مِرآةالمناجِيح، جلد:6، صفحه:9بتغير قليل.

وه، د هغې ځوي پيدا شو او نن هغه مکتب ته اوليږلے شو، اُستاذ هغه ته بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡم زده کړه، ما له حيا راغله چې زه هغه ګَس ته په زمکه کښې دننه عَذاب ورکړم، د چا ځوي چې د زمکې د پاسه زما نوم اخلي.[1]

اے خدائے مصطفےٰ میں تری رحمتوں پہ قرباں | ہو کرم سے میری بخشش، بطُفیلِ شاہِ جیلاں

سُبۡحٰنَ اللّٰه! مونږ ټولو له پکار دي چې خپلو بچو ته د تاتا، پاپا ښودلو په ځائے په شروع کښې د الله پاک نوم اخستل ورزده کړو او دا نه ده چې صرف وفات شوؤ مور و پلار ته د دې برکتونه حاصليږي، بلکه ژوندو کوونکو او ښودونکو ته هم د دې برکتونه نصيب کيږي ځکه د خپلو هلکانو او ماشومانو جينکو سره د لوبو کولو په وخت د زده کولو په نِيَّت د هغوئي مخې ته بيا بيا الله وائي نو هغوئي به هم إِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيم! د ژبو پرانستو سره وړومبے لفظ الله اووائي.

## د آفتونو لرې کيدو آسان وِرد

د مسلمانانو څلورم خليفه حضرت عَلِــيُّ الْمُرتَضٰى شيرِ خُدا رَضِيَ اللهُ عَنۡهُ نه روايت دے چې تاجدارِ مدينه صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: اے علـي (رَضِيَ اللهُ عَنۡهُ)! زه تا ته داسې کلمات اونه ښايم کوم چې ته د مصيبت په وخت لولې! عرض ئې اوکړو: خامخا ئې ارشاد کړئ! په تاسو صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم باندې



1…تفسير کبير، پاره:1، سورهٔ فاتحه، جلد:1، صفحه:155 بتغير.

www.dawateislami.net

دې زما ځان قربان وي! ټولې نيکۍ ما هم ستاسو نه زده کړې دي. خوږ آقا صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: کله چې ته په څه سخته کښې اونښلې نو داسې لوله: بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْم وَلَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ اِلَّا بِاللّٰهِ الْعَلِيِّ الْعَظِيْم بس الله پاک به د دې په برکت سره کومې بلاګانې چې اوغواړې لرې به ئې کړې.[1]

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! چې کله هم بيمارې، قرضدارې، مقدمه بازې، بے روزګارې يا بل يو آفت راشي، څه خيز ورک شي، د چا د خبرې اوريدو سره تاسو ته خفګان در اورسي، څوک مو اووهي، زړه مو خفه شي، تيندک اوخورئ، ګاډے خراب شي، ټريفک جام شي، په کاروبار کښې نقصان اوشي، غلا اوشي الغرض که وړه يا غټه هر قِسمه پريشاني وي د بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْم وَلَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ اِلَّا بِاللّٰهِ الْعَلِيِّ الْعَظِيْم وئيلو عادت جوړ کړئ! نو اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيم! د دې برکتونه به در نصيب شي.

## شِفا خو د الله پاک په نوم کښې ده

حضرت مفتي احمد يار خان نعيمي رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه فرمائي: کوم بيمار چې بِسْمِ اللّٰهِ اووائي او دوائي اوخوري اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيم! دوائي به ورته فائده ورکړي. يو ځل د حضرت موسٰی کليم الله عَلَيْهِ السَّلَام په خيټه کښې سخت درد شو، د الله پاک په بارګاه کښې ئې عرض اوکړو. ارشاد اوشو: د ځنګل فلانکے بوټے اوخوره! هغوئي عَلَيْهِ السَّلَام اوخوړلو او سمدستي ښه شو. څو



1 ... عَمَلُ الْيَوْمِ وَاللَّيْلَةِ لابن سُنّی، صفحه: 149، حديث: 337.

ورځې پس بيا هغه بيماري اوشوه، حضرت موسٰی کليمُ الله عَلَيۡهِ السَّلَام بيا هغه بوټے استعمال کړو خو درد نُور هم زيات شو! د الله پاک په دربار کښې ئې عرض اوکړو: يَا اَللّٰه! دا څه راز دے؟ دوائي يوه او اثر پکښې دوه قِسمه دے، په وړومبي ځل دې شِفا راکړه او په بل ځل ئې بيماري زياته کړه...؟؟ ارشاد اوشو: اے موسٰی! په وړومبي ځل ته زما د طرف نه د بوټي خوا له تلے وے او دا ځل د خپل طرف نه. اے موسٰی! شِفا خو زما په نوم کښې ده، زما د نوم نه بغير د دُنيا هر څيز زهرِ قاتِل دے او زما نوم د دې علاج دے.[1]

معلومه شوه چې بروسه په دوائي باندې نه په الله پاک باندې ساتل پکار دہ. که چرې الله پاک اوغواړي نو په دوائي به شِفا ميلاؤ شي که چرې هغه اُونه غواړي نو هم دغه دوائي به د بيمارئ زياتيدو وجه جوړه شي او عامه مشاهده ده چې د يوې دوائي سره يو بيمار ښه شي او هغه دوائي چې کله بل مريض اوخوري نو په هغه باندې منفي اثر کوي او په نورو مرضونو کښې اخته يا معذوره شي يا مړ شي. ځکه چې کله هم دوائي خورئ نو بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡم لولئ يا بِسۡمِ اللّٰهِ شَافِیۡ بِسۡمِ اللّٰهِ کَافِیۡ اولولئ.

## د تبې علاج

منقول دي، د يو کَس تبه شوه، د هغه استاذِ محترم حضرت شيخ فقيه ولي عمر بن سعيد رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه د هغه د تپوس د پاره تشريف يوړلو، چې هلته



1…تفسيرِ نعيمی، پارہ:1، سورۂ فاتحہ، جلد:1، صفحہ:55 بتغير قليل.

www.dawateislami.net

لا ړلو نو يو تعويذ ئې ورله ورکړو او اوئې فرمائيل: دا د پرانستو سره مه ګوره. د هغوئي د تللو نه پس هغه ګس تعويذ اوتړلو، فوراً ئې تبه لا ړه. هغه صبر اونکړے شو، چې تعويذ ئې پرانستو او اوئې ليدل چې بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡم ليکلے شوې وه. په زړه کښې ئې وسوسه راغله چې دا خو هر څوک ليکلے شي! په عقيدت کښې د کمي راتلو سره پرې سمدستي تبه بيرته راغله. هغه اويريدو او د حضرت په خدمت کښې حاضر شو او د غلطئ معافي ئې اوغوښتله. شيخ بيا تعويذ جوړ کړو او په خپلو لاسونو مبارکو ئې اوتړلو، تبه فوراً لا ړه. دا ځل ئې د کتلو نه منع کړے نه وو خو د ويرې نه ئې د پرانستو سره اونه کتلو. په آخر کښې د يو کال نه پس چې هغه پرانستو او اوئې کتل نو هم هغه بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡم ليکلے شوې وه.[1]

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! واقعي چې د بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡم ډير برکتونه دي او په دې کښې د بيمارو علاج هم دے. د دې حکايت نه دا درس ميلاؤ شو چې که چرې بزرګانِ دين، د الله پاک نيک بندګان که چرې د يو مُباح (يعني جائزه) خبرې نه هم منع کړي نو د نه پوهيدلو باوجود هم د هغې نه ځان ساتل پکار دي. دا درس هم ميلاؤ شو چې تعويذ د پرانستلو سره کتل نه دي پکار چې د دې سره د اعتبار ختميدو انديښنه وي. بيا د دې د راغونډولو د خاص طريقې سره سره د راتلولو په وخت



1…فيضانِ سنت، صفحه: 63.

www.dawateislami.net

بعضې وخت څه لوستلے هم شي. ځکه د کتلو سره د هغې په فائدو کښې کمے راتلے شي.

## د سر د درد علاج

قيصرِ رُوم د مسلمانانو دويم خليفه حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللهُ عَنۡهُ ته خط اوليکلو چې زما ټول عمر په سر درد وي که چرې ستاسو سره د دې دوائي وي نو را اوليږئ! حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللهُ عَنۡهُ هغه ته يوه ټوپئ اوليږله، قيصرِ رُوم به چې هغه ټوپئ په سر کړه نو د سر درد به ئې ټيک شو او چې د سر نه به ئې لرې کړه نو بيا به ئې په سر درد شو. هغه ډير حيرانه شو. آخر هغه هغه ټوپئ ئې اوسپړده نو په هغې کښې يو کاغذ را اووتلو په کومې چې بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡم ليکلے شوې وه.[1]

خوږو او محترمو اسلامي وروڼو! د دې حکايت نه دا معلومه شوه چې د چا په سر باندې درد وي هغه دې په کاغذ باندې بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡم پخپله اوليکي يا دې په بل چا اوليکي او د هغې تعويذ دې په سر اوتړي. د ليکلو طريقه دا ده چې په نه ورانيدونکې سياهئ مثلاً په بال پوائنټ ئې اوليکئ او د بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡم د ه او د م درې واړه دائرے پرانستې اوساتئ، د تعويذ ليکلو اُصول دا دي چې په آيت يا عبارت ليکلو کښې د هرې دائرې والا حَرف دائره پرانستې وي يعني داسې وي مثلاً ط، ظ ، ه،



1…تفسير کبير ،پاره:1، سورۀ فاتحه، جلد: 1، صفحه:155.

www.dawateislami.net

ه، ص، ض وغيره. اِعراب لګول پرې ضروري نه دي، چې اوئې ليکئ نو موم جامه (يعني په موم کښې لمده کړے شوې د کپړې په ټوټه کښې ئې راغونډه کړئ) يا ئې پلاسټک کوټنګ کړئ بيا ئې په کپړه، ريګزين يا څرمن کښې تعويذ جوړ کړئ،او په سر ئې اوتړئ څوک چې عمامه شريف په سر کوي نو که هغه اوغواړي نو د عمامې شريف په ټوپئ کښې دې اوګنډي. که چرې پوره يقين ئې وي نو اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيم ! د سر درد به ئې ټيک شي.

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! **ياد ساتئ!** د سرو زرو يا سپينو زرو يا د بل يو دهات په ډبي کښې تعويذ اېښودو سره هغه اچول د نارينه د پاره جائز نه دي. داسې د هر قِسمه دهات زنځير که په هغې کښې تعويذ وي او که نه، د نارينؤ د پاره اچوَل ناجائزه او ګناه ده. داسې د هر قسمه سرو زرو، سپينو زرو او سټيل وغيره هر قسمه دهات د تختئ يا ګړې په کومه چې څه ليکلي وي که نه وي ليکلي، که په هغې د الله مبارک نوم يا کلمه طيّبه وغيره ولې نه وي ليکلے شوې د هغې اَچوَل د نارينؤ د پاره جائز نه دي. زنانه د سرو او سپينو زرو په ډبي کښې تعويذ اَچوَلے شي.

## د پوزې ماتيدو علاج

که چرې د چا پوزه ماته شي او وينه ترې بهيږي نو هغه دې د شهادت په ګوته په تندې باندې بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْم ليکل شروع کړي او د پوزې په آخِره حصه باندې دې ختمه کړي اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيم ! وينه به

اودریږي.[1]

اے عاشقانِ رَسُول! اَلْحَمْدُ لِلّٰہِ! د دعوتِ اسلامي په شعبه جاتو کښې يوه شعبه **روحاني علاج** هم ده، چې شپه او ورځ د خوږ آقا مُـحَـمَّـد مصطفٰـی صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د غم زپلـي اُمَّت په غمخوارۍ کښې مصروفه ده. اَلْحَمْدُ لِلّٰہِ! د لکونو بيمارانو او پريشان حاله خلقو د دې شعبې په ذريعه بالکل مفت د روحاني علاج کوشش کولے شي. د اميرِ اهلِسُنَّت حضرت علّامه مولانا محمد الياس عطّار قادري دَامَتۡ بَرَكَاتُهُمُ الۡعَالِيَه عطا کړے شوي **روحاني علاج، اورادو و وظائف او تعويذونو** برکتونه صرف د يوې خاص علاقې يا ښار د پاره نه دي بلکه اَلْحَمْدُ لِلّٰہِ! د پاکستان نه علاوه په **32 ملکونو** کښې د اسلامي ورونړو او اسلامي خويندو د روحاني علاج په زرګونو بستے لګي، په کومو کښې چې د ټولې دُنيا پريشان حاله مسلمانان د خپلو مسائلو، پريشانو، د بے روزګارۍ مسائلو او د جادو او پيريانو د معاملاتو حل کولو د پاره دغلته رابطے کوي.

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! تاسو هم نزدې لګيدلې روحاني علاج د بستې (ځائے) نه اوراد، وظيفے، تعويذونه او خپلې مسئلے حل کولے شئ. د **جادو، پيريانو، عملياتو، نظرِ بد وغيره** مسائلو حل کولو د پاره **د کاټ عمل** هم کولے شي. په ښاروو کښې **د خوريدونکي وائرس** د پاره تعويذ او روحاني



1…فيضانِ سنت، صفحه: 73.

www.dawateislami.net

علاج کولے شي. د اِستخارې سروس د دې نوي نمبر02137171711 په ذريعه اِستخاره هم کولے شي. د خپلو مسائلو، پريشانو، بے روزګارئ او جادو او پيريانو د معاملاتو حل کولو د پاره په دې رابطه اوکړئ. په مدني چينل باندې براهِ راست (*Live*) کيدونکي پروګرام **روحاني علاج** خامخا ګورئ، په دې پروګرام کښې هم د مدني چينل کتونکي د مسائلو حل کولو د پاره روحاني علاج هم ښودلے شي او اِستخاره هم کولے شي.

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ! د دعوتِ اسلامي آئي تي ډيپارټمنټ موبائل ايپلي کيشن ***Online rohani ilaj & istikhara*** (آن لائن روحاني علاج او استخاره) متعارف کړے دے. د دې ايپلي کيشن په مدد سره تاسو ❁ آن لائن استخاره کولے شئ ❁ د بيمارئ، نظرِ بد، جادو، پيريانو راتلو وغيره مسائلو د حل د پاره في سبيل الله (يعني مفت) تعويذونه حاصلولے شئ ❁ او آن لائن کاټ هم کولے شئ.

**نور په دې ايپلي کيشن کښې** ❁ د بيمارئ ❁ غريبئ ❁ غم، پريشانئ ❁ د آفتونو او بلاګانو وغيره نه د حفاظت مختلف اوراد او وظيفے هم شاملې دي. په خپل موبائل کښې دا ايپلي کيشن انسټال کړئ! پخپله ترې هم فائده واخلئ او نورو ته هم د دې ترغيب ورکړئ.

## د بِسمِ الله د ليکلو فضيلت

د حضرت اَنَس رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ نه روايت دے چې د الله پاک محبوب صَلَّی اللّٰہ

عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: چا چې د الله پاک د تعظيم د پاره په ښه شکل کښې بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡم اوليکله الله پاک به هغه اوبخښي.[1]

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! د بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡم د ليکلو عظيم ثواب موندلو د پاره کله نا کله په اوداسه کښې په خوش خَطئ کښې په کاغذ وغيره باندې بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡم ليکئ، خو د بے ادبئ په ځائے ئې هيڅ کله هم مه ليکئ، په ديوالونو باندې هم آيتونه او مقدّس کلِمات مه ليکئ په مزه مزه د ليکلو ذرّات په زمکه رادوريږي. يو ځل رسولِ اکرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په يو ځائے تيريدلو، هلته په زمکه باندې بِسۡمِ اللّٰهِ شريف ليکلے شوې وه، خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم چې دا اوليدل نو اوئې فرمائيل: په داسې ليکونکې دې لعنت وي، بِسۡمِ اللّٰهِ د هغې په ځائے ساتئ.[2]

از خُدا خواہیم توفیقِ ادب | بے ادب محروم گشت از فضلِ ربّ

**وضاحت:** مونږه د الله پاک نه د اَدب د توفيق طلبګار يو چې بے اَدَبه د الله پاک د فضل نه د محرومه کيدلو سره در په در ذليل و خوار ګرځي.

## شرابي وَلِـيُّ اللّٰه جوړ شو

حضرت بِشر حافي رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه د توبې کولو نه مخکښې ډير غټ شرابي وو. هغوئي رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه يو ځل د شرابو په نشه کښې ډوب چرته روان وو



1…تاريخ اصبهان، جلد:2، صفحه:285، رقم:1746.

2…تفسير در منثور، پاره:1، سورهٔ فاتحه، جلد:1، صفحه:29.

www.dawateislami.net

چې په لاره کښې ئې یو کاغذ اولیدلو په کوم چې بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡم لیکلے شوې وه. هغوئي رَحۡمَةُ اللهِ عَلَیۡه هغه کاغذ را اوچت کړو او عطر ئې واخستل او په بِسۡمِ اللّٰهِ شریف والا کاغذ باندې ئې اولګول، بیا ئې هغه [کاغذ] په یو اوچت ځائے په اَدَب سره کیښودو. په هغه شپه یو بُزرګ رَحۡمَةُ اللهِ عَلَیۡه په خوب کښې واوریدل، څوک وائي: لاړ شه! بِشر ته اووایه تا زما نوم مُعَطَّره کړو، د هغه تعظیم دې اوکړو او هغه دې په اوچت ځائے باندې کیښودو، مونږ به هم تا پاک کړو. هغه بُزرګ رَحۡمَةُ اللهِ عَلَیۡه په زړه کښې سوچ اوکړو چې بِشر خو شرابي دے. کیدے شي چې ما ته په خوب کښې غلط فهمي شوې وي. نو هغه اودس اوکړو، نفل ئې ادا کړل او بیا اوده شو. په دویم او دریم ځل ئې هم دغه خوب اولیدلو او دا ئې هم واوریدل چې زمونږه دا پیغام د بِشر د پاره دے، لاړ شه! هغه ته زمونږه پیغام اُورَسَوه! هم دغسې هغه بُزرګ رَحۡمَةُ اللهِ عَلَیۡه د حضرت بِشر رَحۡمَةُ اللهِ عَلَیۡه د لټولو د پاره اووتلو. هغوئي ته پته اولګیده چې هغه د شرابو په محفل کښې دے نو هغوئي هلته اورسیدل او بِشر ته ئې غږ اوکړو. خلقو اووئیل چې هغه خو په نشه کښې مست دے! هغوئي اووئیل، لاړ شئ او هغوئي ته په څه طریقه اووائې چې یو کَس ستا د پاره یو پیغام راوړے دے او بهر ولاړ دے، یو کس دننه لاړو او هغه ئې خبر کړو. حضرت بِشر حافي رَحۡمَةُ اللهِ عَلَیۡه اوفرمائیل: د هغه نه پوښتنه اوکړئ چې هغه د چا پیغام راوړے دے؟ بُزرګ رَحۡمَةُ اللهِ

عَلَيْه اوفرمائيل: د الله پاک پيغام مې راوړے دے. کله چې هغوئي [يعني بشر] رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه ته دا خبره اوکړے شوه نو ډير خوشحاله شو او ښپې ابله ښپې ئې بهر تشريف راوړلو، د حق پيغام اوريدلو سره ئې په رښتيني زړه توبه کړه او هغه اوچتې مرتبې ته اورسيدلو چې د مُشاهَدَۀ حق د غَلَبے د زياتوالي نه به ښپې ابله ښپې اوسيدلو. دغه شان هغوئي رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه د حافي (يعني ښپي ابله ښپو والا) په لقب سره مشهور شو.[1]

## د بِسمِ الله د لوستونکي بخښنه اوشوه

د مسلمانانو څلورم خليفه حضرت عَلِـيُّ المُرتضٰى شيرِ خدا رَضِیَ اللهُ عَنۡهُ نه روايت دے چې يو کَس بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡم ډيره ښکلې اولوستله، هغه اوبخښلے شو.[2]

نقل دي چې يو ګنهګار د وفات کيدو نه پس چا په خوب کښې اوليدلو او پوښتنه ئې ترې اوکړه، مَا فَعَلَ اللّٰهُ بِکَ؟ يعني الله پاک ستا سره څه مُعامَله اوکړه؟ هغه جواب ورکړو، يو ځل زه د يوې مدرسې په خوا تيريدم او يو لوستونکي بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡم اولوستله، د اوريدو سره زما په زړه کښې د الله پاک خوږ خوږ نوم خوږ اثر اوکړو او په هغه وخت کښې ما دا غيبي آواز واوريدو، مونږه به 2 څيزونه نه جمع کوو: **(1)** د الله پاک د



1…تذکرةُ الاولياء، صفحه:105، 106 ملتقطاً.
2…شُعَبُ الايمان، جلد:2، صفحه:546، حديث:2667.

نوم خوړ والے **(2)** د مرګ تريخ والے.[1]

| | |
|---|---|
| گنہگارو نہ گھبراؤ نہ گھبراؤ نہ گھبراؤ | نظرِ رَحمت پہ رکھو جنّتُ الفردوس میں جاؤ |

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** د دې حکايت نه معلومه شوه چې د الله پاک د نوم نه خوند اخستونکے، د رحمتونو په سوري کښې د دُنيا نه رخصتيږي او مرګ د هغه د پاره د خلاصي او بخښنې پيغام راوړي، د الله پاک رحمت ډير زيات دے، هغه نکته نواز دے، په ظاهره معمولي ښکاره کيدونکو اعمالو په وجه غټ ګناهونه بخښلے شي.

| | |
|---|---|
| رَحمتِ حق بَہا نہ مِی جُوید | رَحمتِ حق بَہانہ مِی جُوید |

**وضاحت:** د الله پاک رَحمت قيمت نه غواړي بلکه د الله پاک رحمت خو بهانه غواړي.

**اے عاشقانِ رَسُول!** تاسو اوليدل! د بِسۡمِ اللّٰهِ شريف د لوستلو، اوريدلو، د دې د ليکلو او د دې د تعظيم کولو څنګه برکتونه دي. مونږ له هم پکار دي چې مونږه هم د بِسۡمِ اللّٰهِ شريف د لوستلو عادت جوړ کړو، الله پاک دې مونږ له توفيق راکړي. راځئ! په آخره کښې د بِسۡمِ اللّٰهِ شريف په باره کښې يو څو احکام او څه فائده مندې وظيفے اورو:

## د بِسمِ الله شريف 14 برکتونه

**(1)** حضرت شيخ ابو العبّاس احمد بن علي بوني رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه فرمائي: څوک چې بے ناغه 7 ورځو پورې بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡم 786 ځله (اوّل و آخر



1…انيس الواعِظين، صفحه:4.

www.dawateislami.net

يو ځل دُرُود شريف) اولولي. اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيم! د هغه هر حاجت به پوره شي. اوس که هغه حاجت د څه ښيګړې موندلو وي او که د بدئ د لرې کيدو يا د کاروبار د چليدو د پاره وي.[1]

**(2)** څوک چې د اوده کيدو په وخت بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْم 21 ځله (اوّل و آخِر يو ځل درود شريف) اولولي اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيم! هغه شپه به د شيطان، غلا، د ناڅاپه مرګ او هر قسمه آفت او بلا نه محفوظ وي.

**(3)** کوم ګس چې د لمَر راختو په وخت لمَر طرف ته مخ کړي او بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْم 300 ځله او درود شريف 300 ځله اولولي الله پاک به هغه ته د داسې ځائے نه رِزق عطا کړي د کوم ځائے نه چې به د هغه ګمان هم نه وي او (هره ورځ د لوستلو سره به) اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيم! په يو کال کښې دننه دننه مالداره شي.

**(4)** کُند ذِهن (يعني هغه ګس چې څه ورته ياديږي نه) که چرې بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْم 786 ځله (اوّل و آخر يو ځل درود شريف) اولولي او په اوبو باندې د دمولو سره ئې څښې نو اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيم! د هغه حافظه به مضبوطه شي او چې کومه خبره اوري هغه به ورته ياديږي.

**(5)** که چرې قحط راشي نو بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْم 61 ځله (اوّل و آخر يو ځل درود شريف) اولولئ (بيا دُعا اوکړئ) اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيم! باران به کيږي.[2]



1…شمسُ المعارف مترجَم ،صفحه:74 بتغير قليل .

2…شمسُ المعارف مترجَم ،صفحه:74 بتغير قليل.

www.dawateislami.net

(6) بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡم په کاغذ باندې 35 ځله (اوّل و آخر يو ځل درود شريف) اوليکئ او په کور کښې ئې زوړند کړئ اِنۡ شَآءَ اللّٰہُ الۡکَرِیۡم! شيطان به نه راځي او ډير برکت به وي. که چرې په دکان کښې ئې زوړند کړئ نو اِنۡ شَآءَ اللّٰہُ الۡکَرِیۡم! کاروبار به مو ډير ښه شي.

(7) په يکم مُحَرَّمُ الحرام چې خوک بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡم 130 ځله ښځپله اوليکي (يا په بل چا ئې اوليکي) خوک ئې چې د ځان سره اوساتي (يا د پلاسټک کوټنګ کولو سره په کپړا، ريګزين يا څرمن کښې اوګنډي) اِنۡ شَآءَ اللّٰہُ الۡکَرِیۡم! ټول عمر به هغه ته يا د هغه په کور کښې چا ته څه نقصان نه رسي.

(8) بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡم 70 ځله اوليکئ او د مړي سره ئې په کفن کښې کيږدئ. اِنۡ شَآءَ اللّٰہُ الۡکَرِیۡم! د مُنکر نَکير معامله به پرې آسانه شي.[1]

(بهتره دا ده چې د مړي د مخ مخې ته د قبلې په لور ديوال کښې د محراب په شان تاخ جوړ کړے شي او په هغې کښې کيښودے شي، دې سره سره عهد نامه او د مړي د پير صاحب شجره وغيره هم کيږدئ)

(9) د جامو ويستلو په وخت د بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡم وئيلو سره پيريان ستر نه شي ليدلے. د کمرې دروازه، کړکۍ، د اَلمارۍ درازونه چې څومره ځله بيرته کوئ بندوئ، د جامو، لوښو وغيره هر څيز ايښودلو راخستلو په وخت هر ځل د بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡم لوستلو عادت جوړ کړئ. اِنۡ شَآءَ اللّٰہُ



1…شمسُ المعارف مترجَم، صفحه:75 بتغير قليل.

www.dawateislami.net

اَلْکَرِیۡم! سرکشه پیریان به ستاسو کور ته د راننوتو، غلا او ستاسو د څیزونو د استعمالولو نه ډډه کوي.[1]

**(10)** سر په تیلو د غوړولو نه مخکښې بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡم اولولئ ګنې 70 شیطانان به په سر کښې په تیلو اچولو کښې شریک شي.

**(11)** د کور د دروازې بندولو په وخت په یاد سره بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡم لولئاِنۡ شَآءَ اللّٰہُ الۡکَرِیۡم! شیطان او سرکشه پیریان به کور ته نه شي راننوتے.

**(12)** د شپې د خوراک څښاک لوښي د بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡم لوستلو سره پټ کړئ، که چرې د پټولو د پاره څه څیز نه وي نو بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡم اووائې او د لوښي په خُله باندې ډَکے وغیره کیږدئ. د مسلم شریف په یو روایت کښې دي: په کال کښې یوه شپه داسې راځي چې په هغې کښې وبا راځي کوم لوښے چې پټ نه وي، کله چې په هغه ځائے هغه وبا تیریږي نو په هغه لوښي کښې پریوځي.[2]

**(13)** د اوده کیدو نه مخکښې بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡم اولولئ 3 ځله بستره څنډئ،اِنۡ شَآءَ اللّٰہُ الۡکَرِیۡم!د ضرر رسوونکي څیزونو نه به درته پناه حاصله شي.

**(14)** کاروبار کښې د جائز لین دین په وخت یعني چې کله د چا نه [څه] اخلئ نو بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡم لولئ او چې کله چا له [څه] ورکوئ نو



1…عَمَلُ الۡیَوۡمِ واللیلۃ لا بن سُنّی، باب التسمیۃ عند الجلوس علی الخلاء، صفحه:30، حدیث:21 ماخوذاً.
2…مسلم، کتاب الاشربة، باب الامر بتغطیۃ الاناء و ایکاء السقاء…الخ، صفحه:802، حدیث:2014.

www.dawateislami.net

بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡم لولئ اِنۡ شَآءَ اللّٰہُ الۡکَرِیۡم! ډېر برکت به وي.[1]

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡم یو قاري صاحب یا عالم صاحب ته واوروئ که چرې حروف په صحیح مخارِج سره نه ادا کیږي نو زده ئې کړئ ګنې بیا د فائدې په ځائے د نقصان ورکولو اندیښنه ده. یا رَبِّ مصطفٰی! مونږه د بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡم د برکتونو نه مالا مال کړې او د هر نیک او جائز کار په شروع کښې راته د بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡم لوستلو توفیق راعطا کړې. اٰمِین بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

## په 12 دیني کارونو کښې یو دیني کار: چوک دَرس

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! په سُنَّتو د عمل کولو او نیک پرهیزګاره جوړیدلو د پاره د عاشقانِ رسول دیني تحریک دعوتِ اسلامي دیني ماحول سره وابسته شئ!د ذیلي حلقے په 12 دیني کارونو کښې هم پوره حِصَّه واخلئ! اِنۡ شَآءَ اللّٰہُ الۡکَرِیۡم! د دین و دُنیا بے شمیره فائدې به در نصیب شي. د ذیلي حلقے په 12 دیني کارونو کښې یو دیني کار: **چوک درس** دے. اَلۡحَمۡدُ لِلّٰہِ! د دعوتِ اسلامي سره تعلق لرونکي عاشقانِ رسول یواځې په جُماتونو کښې نه، کوڅو، محلو او دکانونو ته د تللو سره هم دَرس ورکوي، نیکئ ګټي او نورو ته د نیکئ دعوت ورکولو سره د سُنَّتو پیغام عام کوي. راځئ! د چوک دَرس یو مدني سپرلے واورو:

1…فیضانِ سنت، جلد:1، صفحه:134، 138.



www.dawateislami.net

## د وخت قدر ئې نصيب شو

د حيدر آباد (انټيرئير سنده، پاکستان) د يو اسلامي ورور بيان دے:
زما د کرکټ کولو او فلمونو کتلو سره ډير شوق وو، د بے عملئ حال مې دا وو چې ما به د جُمعې لمُونځ هم نه کولو بلکه د برکت نه ډک دغه وختونه به مې هم په ګناهونو او فضولياتو کښې تيرول. بيا په ما کرم اوشو. زمونږه په علاقه کښې يو اسلامي ورور چوک دَرس کولو، يوه ورځ هغه د محبت نه ډک انداز کښې ما ته په چوک دَرس کښې د شرکت کولو دعوت راکړو، په خوش قسمتئ سره ما د هغه خبره په تَوَجُّه سره واوريدله، بيا به مې هره ورځ د هغه په دَرس کښې شرکت کولو، هره ورځ به په ما کښې بدلون راتللو، بيا په مزه مزه ما د دعوتِ اسلامي په هفته واره د سُنَّتو په ډکه اجتماع کښې هم شرکت شروع کړو، د اسلامي ورونړو د ژوند تيرولو انداز ليدلو سره به په زړه کښې خوشحاليدم، داسې اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ! زه په سمه لاره روان شوم، ما د فلمونو کتلو نه توبه کړه او مخکښې چې به مې کوم وخت په کرکټ کښې تباه کولو، اوس په ديني کارونو کښې مصروف يم.

زمانے بھر میں مچادیں گے دُھوم سُنت کی | اگر کرم نے ترے ساتھ دے دیا یا ربّ!

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** د بيان په آخره کښې د سُنّت فضيلت او د ژوند يو څو آدابو بيانولو سَعَادت حاصلووم. تاجدارِ رِسالت، شَهَنشَاهِ

نبوت صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائي: مَنۡ اَحَبَّ سُنَّتِی فَقَدۡ اَحَبَّنِی وَمَنۡ اَحَبَّنِی کَانَ مَعِی فِی الۡجَنَّةِ چا چې زما د سُنّت سره محبت اوکړو هغه زما سره محبت اوکړو او چا چې زما سره محبت اوکړو هغه به په جنّت کښې زما سره وي.[1]

سینہ تیری سُنّت کا مدینہ بنے آقا! جنت میں پڑوسی مجھے تم اپنا بنانا

صَلُّوۡا عَلَی الۡحَبِیۡب! صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## د اوبو څښلو سُنَّت او آداب

د آخري نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **2 فرامين: (1)** د اوښ په شان په يوه ساه کښې مه څښئ بلکه دوه يا درې ځله (ساه اخستلو سره) څښئ او د څښلو نه مخکښې بِسۡمِ الله لولئ او د فارغيدو (يعني د څښلو نه پس) اَلۡحَمۡدُ لِلّٰهِ لولئ!.[2]

اے عاشقانِ رَسُول! که اوبه وي او که د څښلو څه بل څيز ❀ د څښلو نه مخکښې بِسۡمِ الله لولئ ❀ وړوکے وړوکے ګوټ کوئ، د غټ ګوټ کولو سره د ځيګر بيماري پيدا کيږي ❀ اوبه په دريو ساه ګانو کښې څښئ او په ښي لاس سره ئې څښئ ❀ که په لوټه [يعني کوزه] وغيره مو اودس کړے وي نو د هغې نه د پاتې شوو اوبو په څښلو کښې د 70 مرضونو شِفا ده چې دا د آبِ زم زم شريف مشابهت لري، د دې دوؤ (يعني د اودس نه د پاتې شوو اوبو او د زم زم شريف) نه علاوه هرې اوبه په ولاړه څښل مکروه عمل دے، دا دواړه قِسمه



1…مشکوٰۃ،کتابُ:الۡاِیمان،باب:الۡاِعۡتِصَام، جلد:1، صفحه:55، حديث:175۔
2…ترمذی، کتاب الاشربة، صفحه:464، حديث:1885.

اوبه قبلے طرف ته د مخ کولو سره په ولاړه څښئ ❀ د څښلو نه مخکښې ئې
ښه اوګورئ چې د څښلو په څيز کښې څه ضرري څيز خو نشته ❀ د څښلو نه
پس اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ لولئ ❀ امام محمد بن محمد بن محمد غزالي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: د
بِسْمِ الله وئيلو سره په اوبو څښلو شروع کوئ، د وړومبئ ساه په آخره کښې
اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ د دويم نه پس اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِيْن او د دريمې ساه نه پس اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ
رَبِّ الْعَالَمِيْنَ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيم لولئ. دا يو ښه کار دے، که اونکړے شو نو هم
پکښې څه باک نشته او په شروع کښې د بِسْمِ الله وئيلو او په اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ سره په
ختمولو به هم سُنَّت ادا شي ❀ په ګلاس کښې پاتې شوې د مسلمان صفا جوټه
اوبه د استعمال وړ کيدو باوجود هسې نه دي توئيول پکار ❀ نقل دي چې سُؤْرُ
الْمُؤْمِنِ شِفَاءٌ يعني د مسلمان په جوټه کښې شِفا ده ❀ د څښلو د يو څو ساعتو نه
پس چې خالي ګلاس ته اوګورئ نو د هغې د اړخونو نه به يو څو څاڅکي په بيخ
کښې جمع شوي وي، هغه هم څښل پکار دي.[1]

د مختلفو سنتونو زده کولو د پاره د مکتبةُ المَدينه بهارِ شريعت جلد 3 نه
حِصّه 16 او د شيخ طريقت، امير اهلسنت حضرت علامه مولانا ابو بلال
محمد الياس عطار قادري رضوي دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه د 100 صفحو کتاب **550**
سنت او آداب واخلئ او اوئي لولئ! د سنت زده کولو يوه بهترينه ذريعه د دعوتِ
اسلامي مدني قافلو کښې د عاشقانِ رسول سره د سنتو ډک سفر کول هم ده.



1...550 سنتيں اور آداب، صفحه:16.

آؤ مدنی قافلے میں ہم کریں مل کر سفر
سنتیں سیکھیں گے اِس میں اِنْ شَآءَ اللّٰہ سر بَسَر
مجھ کو جذبہ دے سفر کرتا رہوں پَروردگار
سنتوں کی تربیت کے قافلے میں بار بار[1]

الله پاک دې مونږ له د عمل کولو توفيق راعطا کړي.

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيِّيْن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

## د دعوتِ اسلامی هفته واره د سُنَّتو ډکه اجتماع کښې لوستلو والا (6) دُرودِ پاك او (2) دُعاګاني

### ﴿1﴾ د شَبِ جُمعے [يعني د جُمعے د شپے] دُرُود

بُزرګانِ دينو فرمائيلي دي چې خوك هره شَبِ جُمعه (يعني د جُمعے او زيارت مينځنۍ شپه کښې) دا دُرُود شريف په پابندۍ سره کم ازکم يو ځل لوَلي [هغه به] د مرګ په وخت کښې د سرکارِ مدينه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دِيدار کوي او قَبْر کښې د داخليدو وخت کښې هُم، تر دې چې سرکارِ مدينه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به هغه قَبْر کښې د خپل رَحمت نه ډکو لاسو باندې کوزوي.[2] راځئ چې مونږه هم په شريکه دا دُرُود اووائيو:

اَللّٰهُمَّ صَلِّ وَسَلِّمْ وَبَارِكْ عَلٰى سَيِّدِنَا مُحَمَّدِ ِنِ النَّبِيِّ الْاُمِّيِّ
الْحَبِيْبِ الْعَالِى الْقَدْرِ الْعَظِيْمِ الْجَاهِ وَعَلٰى اٰلِهٖ وَصَحْبِهٖ وَسَلِّمْ



1…وسائل بخشش، صفحه:635.
2…افضل الصلوات على سيد السادات، الصلاة السادسة والخمسون، ص١٥١ملخصًا

www.dawateislami.net

## ﴿2﴾ ټول ګناهونه مُعاف

حضرتِ سيِّدُنا اَنَس رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ نه روايت دے چې تاجدارِمدينه صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: څوك چې دا دُرُودِ پاك لوَلي كه ولاړ وو نو كښيناستلو نه مخكښې او كه ناست وو نو اودريدلو نه مخكښې به د هغه ګناهونه مُعاف كړے شي. راځئ چې مونږه هم په شريكه دا دُرُود اووائيو:

اَللّٰھُمَّ صَلِّ عَلٰی سَیِّدِنَا وَمَوْلَانَا مُحَمَّدٍ وَّعَلٰی اٰلِہٖ وَسَلِّمْ

## ﴿3﴾ د رَحمت اويا دروازے:

څوك چې دا دُرُودِ پاك لوَلي په هغه به د رَحمت اويا دروازے بيرته كړے شي.[1] راځئ چې دا دُرُود هُم په شريكه اووائيو: صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

## ﴿4﴾ د شپږ لاكه دُرُودشريف ثواب

حضرت اَحْمَد صَاوِی رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ د بَعضو بُزرګانو نه نَقل كوي: دا دُرُود شريف يو ځل لوستلو باندې د شپږو لاكو دُرُود شريف لوستلو ثواب حاصِليږي.[2] راځئ چې په شريكه ئې اُووائيو:

اَللّٰھُمَّ صَلِّ عَلٰی سَیِّدِنَا مُحَمَّدٍ عَدَدَ مَا فِیْ عِلْمِ اللّٰہِ
صَلَاۃً دَآئِمَۃً بِدَوَامِ مُلْكِ اللّٰہِ



1...القول البديع، الباب الثانی، ص٢٧٧

2...افضل الصلوات علی سيد السادات، الصلاة الثانية والخمسون، ص١٣٩

www.dawateislami.net

## ﴿5﴾ قُربِ مُصطَفٰے صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

يوه ورځ يو كس راغلو نو حُضُورِ اَنور صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم هغه د خپل ځان او صِدّيقِ اكبر رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ تر مينځه كښينولو، په دې باندې صَحابَهٔ كرام رَضِیَ اللہُ عَنۡہُم حيران شو چې دا څوك ذِی مَرتبه [يعني اوچتې مرتبے والا] دے! چې كله هغه لاړو نو سركار صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: دے چې كله په ما باندې دُرُودِ پاك لوَلي نو داسے ئې لوَلي.[1] راځئ چې مونږه ئې هُم په شريكه اووائيو:

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ كَمَا تُحِبُّ وَتَرْضٰى لَهٗ

## ﴿6﴾ دُرُودِ شَفاعت

د شفِيعِ اُمَّت صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمانِ مُعَظَّم دے: څوك چې داسې دُرود شريف اولوَلي، د هغه د پاره به زما شفاعت واجب شي.[2] راځئ چې دا دُرُود هُم په شريكه اووائيو:

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ وَّاَنْزِلْهُ الْمَقْعَدَ الْمُقَرَّبَ عِنْدَكَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ

## ﴿1﴾ د يو زر ورځو نيكۍ:

حضرتِ سَيِّدُنا ابنِ عباس رَضِیَ اللہُ عَنۡہُمَا نه رِوايت دے چې سركارِ مدينه صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: د دې د لوستونكي د پاره فرښتے يو زر ورځو



1...القول البديع، الباب الاول، ص ۱۲۵

2...الترغيب والترهيب، كتاب الذكر و الدعاء، ۳۲۹/۲، حديث: ۳۰

www.dawateislami.net

پورې نيکۍ ليکي.[1] راځئ چې مونږه ئې هُم په شريکه اووائيو:

جَزَی اللّٰهُ عَنَّا مُحَمَّدًا مَا هُوَ اَهْلُهٗ

## ﴿2﴾ داسې ده لکه شبِ قدر ئې چې حاصل کړو

فرمانِ مُصطَفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: چا چې دا دُعا درې ځله اولوستله نو لکه هغه چې شَبِ قَدر حاصل کړو.[2] راځئ چې مونږه هُم دا دُعا په شريکه اووائيو:

لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ الْحَلِيْمُ الْكَرِيْمُ ، سُبْحٰنَ اللّٰهِ
رَبِّ السَّمٰوٰتِ السَّبْعِ وَرَبِّ الْعَرْشِ الْعَظِيْم

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد



1... مجمع الزوائد، كتاب الادعية، باب فى كيفية الصلاة... الخ، ۱۰/۲۵۴، حديث:۱۷۳۰۵

2... تاريخ ابنِ عساكر، ۱۹/۱۵۵، حديث:۴۴۱۵

www.dawateislami.net